# اختر د خیر ښیګړې ورځ ده

د وړوکي اختر بیان (2025ء/1446هـ)



د وړوکي اختر بیان (2025ء/1446ھ)

# اختر د خیرښیګړې ورځ ده

په دې بیان کښې به تاسو زده کړئ...

- د یو سَخي اختر
- د اختر خوشحالۍ یې یو په دوه شوې
- د سرسایه [یعنې صدقهٔ فِطر] د واجب کیدو یو حکمت
- د اختر د نمونځ طریقه (حنفي)

پیشکش

اَلْمَدِیْنَةُ الْعِلْمِیَة

Islamic Research Center

(شعبہ: بیاناتِ دعوتِ اسلامی)

FOR FEEDBACK
(+92) 315 2692 786

GET MORE SPEECHES
(+92) 310 8882 033

اَلْحَمْدُ لِلّٰهِ رَبِّ الْعٰلَمِيْنَ وَ الصَّلٰوةُ وَالسَّلَامُ عَلٰى خَاتَمِ النَّبِيّٖنَ

اَمَّا بَعْدُ فَاَعُوْذُ بِاللّٰهِ مِنَ الشَّيْطٰنِ الرَّجِيْمِ بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ

اَلصَّلٰوةُ وَالسَّلَامُ عَلَيْكَ يَا رَسُوْلَ اللّٰه وَعَلٰى اٰلِكَ وَاَصْحٰبِكَ يَا حَبِيْبَ اللّٰه

اَلصَّلٰوةُ وَالسَّلَامُ عَلَيْكَ يَا نَبِيَّ اللّٰه وَعَلٰى اٰلِكَ وَاَصْحٰبِكَ يَا نُوْرَ اللّٰه

نَوَيْتُ سُنَّتَ الْاِعْتِكَاف (ترجمه: ما د سُنَّت اعتکاف نِیَّت وکړو)

## د دُرُودِ پاک فضیلت

د الله پاک اخري نبي، رسولِ هاشمي صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم فرمائیلي دي: څوک چې په ما باندې د ورځې یو زر [1000] کرته دُرُودِ پاک ولولي، هغهٔ به تر هغه وخته پورې نهٔ مرِ کیږي ترڅو پورې چې په جنَّت کښې خپل ځائے اونه ویني-[1]

نبی کی شان میں ہو جس قدر دُرُود پڑھو | مُجَبّو پاؤ گے جنت میں گھر دُرُود پڑھو[2]

صَلُّوْا عَلَى الْحَبِيْب! صَلَّى اللّٰهُ عَلٰى مُحَمَّد

## د روژې نه پس اختر وي

بعدِ رَمضان عید ہوتی ہے | رَبّ کی رَحمت مزید ہوتی ہے
جس کو آقا کی دید ہوتی ہے | اس پہ قربان عید ہوتی ہے
عید تجھ کو مبارک اے صائم! | روزہ داروں کی عِید ہوتی ہے
روزہ داروں کے واسطے واللّٰہ | مغفرت کی نَوِید ہوتی ہے
عید کے دِن عمر یہ رو رو کر | بولے ”نیکیوں کی عید ہوتی ہے“
عِید عطّار اُس کی ہے جس کو | خواب میں اُن کی دِید ہوتی ہے

[1]... الترغیب فی فضائل الاعمال، صفحه:14، حدیث:19

[2]... نورِ ایمان، صفحه:56 ملتقطاً۔

# اختر د بخښنې ورځ ده

خوږو او محترمو اِسلامي وروڼو! د الله پاک ډېر کرم او د احسان د پاسه احسان دے چې هغهٔ مونږ ته د روژې د میاشت پهٔ شان نعمت عطا کړو، بیا یې د روژې د میاشت نه فوراً پس د اختر د خوشحالو دا مبارکه ورځ راعطا کړله- اَلْحَمْدُلِلّٰه! لکه څنګه چې د روژې میاشت د بخښنې میاشت ده، هم دغه شان د وړوکي اختر دا مبارکه ورځ هم د رَبِّ رحمان د رحمتونو د حاصلولو ورځ ده- د صحابئ رسول حضرت عبد الله بن عبّاس رَضِیَ اللّٰہُ عَنْہُما پهٔ یو روایت کښې دي: چې کله دا اختر سحر شي نو الله پاک خپلې معصومې فرښتے ټولو ښارونو ته لیږي، هُغه فرښتے زمکې ته تشریف راوړي او پهٔ ټولو کوڅو او لارو کښې ودریږي او داسې اِعلان کوي: اے د مُحَمَّد [صَلَّی اللّٰہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم] اُمَّته! د هُغه رَبِّ کریم د بارګاه طرف ته ځئ! کوم چې ډېر زیات عطا کوونکے او د لوئې نه د لوئې ګناه معاف کوونکے دے-

بیا الله پاک خپلو بندګانو ته داسې خطاب فرمائي: اے زما بندګانو! وغواړئ! څهٔ غواړئ! پهٔ خپل عزت او جلال مې دې قَسم وي چې! پهٔ نن ورځ پهٔ دې (د اختر د نـمونځ پهٔ) اجتماع کښې چې د خپل اخرت پهٔ باره کښې څهٔ سوال هم کوئ هغه به پوره کووم او څهٔ چې د دُنیا پهٔ باره کښې غواړئ، پهٔ هغې کښې به ستاسو د خیر طرف ته نظر کووم (یعنې پهٔ هُغه معامله کښې به هُغه کووم پهٔ کومه کښې چې ستاسو خیر وي)- زما پهٔ عزت مې دې قَسم وي! تر څو پورې چې تاسو زما لحاظ کوئ، زهٔ به هم ستاسو پهٔ خطاګانو باندې پرده اچووم- پهٔ خپل عزت مې دې قَسم وي! زهٔ به تاسو د حد نه د تیریدنکو (یعنې د مجرمانو) سره نهٔ رسوا کووم- بس د خپلو کورونو طرف ته بخښلے شوي واپس شئ! تاسو زهٔ راضي کړم او زهٔ ستاسو نه راضي شوم-[1]

---

[1]... شُعَبُ الایمان، باب في الصیام، جلد:3، صفحه:336، حدیث:3695۔

**خوږو او محترمو اِسلامي ورونو!** غور وکړئ چې د وړوکي اختر ورځ څومره اهمه ورځ ده، پهٔ دې ورځ باندې د الله رَبُّ العزّت رحمت ډیر پهٔ موجونو باندې وي، د الله پاک د دربار نه یو سوال کوونکے هم مایوسه واپس نهٔ ځي، کاش چې د دې مبارکې ورځ پهٔ برکت د الله پاک د رحمت یو څاڅکے زمونږه د ګنهګارانو هم نصیب شي، یقین وکړئ چې بیا خو به واقعي چې اختر شي-

میں رحمت،مغفرت، دوزخ سے آزادی کا سائل ہوں
مہِ رمضان کے صدقے میں فرما دے کرم مولیٰ
بنا دے مجھ کو مُحَمَّد مصطفٰے کا عاشِقِ صادِق
تُو دیدے سوزِ سینہ، کر عنایت چشمِ نَم مولیٰ
نہیں درکار وہ خوشیاں، جو غفلت کا بنیں ساماں
عطا کر اپنی اُلفت اپنے پیارے کا تُو غم مولیٰ( 1 )

**صَلُّوا عَلَی الْحَبِیب! صَلَّی اللهُ عَلٰی مُحَمَّد**

## د یو سَخي اختر

حضرت عبد الرحمان بن عَمرو اَوزاعي رَحۡمَةُ اللّٰهِ عَلَيۡه فرمائي: د وړوکي اختر شپه وه، ناڅاپه زمونږه دروازه ووهل شوه، ما چې وکتل نو زما ګاونډي ولاړ وو، ما ترینه پوښتنه وکړه: ووایه وروره! څنګه راغلې؟ هغهٔ ووئیل: سبا اختر دے خو د خرچې د پاره راسره څهٔ نشته، که چرې تاسو راسره څهٔ مدد وکړئ نو پهٔ عزت سره به مونږه هم د اختر ورځ تیره کړو- حضرت عبد الرحمان رَحۡمَةُ اللّٰهِ عَلَيۡه فرمائي: ما د اختر د خرچې د پاره 25درهمې (یعنې د سپینو زرو سِکّې) کیښودې وې، ما قرباني ورکړه او د ځان د پاره کیښودے شوے هغه رقم مې خپل ګاونډي له ورکړو- هغهٔ پهٔ دعاګانو کولو لاړو، لږ سعت پس بیا چا دروازه ووهله- ما چې څنګه دروازه برسیره

[1]... وسائلِ بخشش، صفحه:98 99 ملتقطًا-

کړه نو یو ګس زما پهٔ ښپو راپریوتو او پهٔ ژړا ژړا یـې ووئیل: زهٔ ستاسو د والد صاحب نه تنښتیدلے غلام یم، زهٔ پهٔ خپل دي حرکت باندې ډیر پښیمانه شوم نو تاسو ته حاضر شوم، دا 25 دیناره (یعنې د سرو زرو سِکّې) ما ګټلې دي، ستاسو پهٔ خدمت کښې یـې وړاندې کووم، قبولې یـې کړئ! تاسو زما آقا یئ او زهٔ ستاسو غلام یم- ما هٔغه دینار واخستل او غلام مې ازاد کړو- بیا ما خپلې کور ودانې ته ووئیل: **د الله پاک شان ته وګوره! هغهٔ زمونږه درهمو (یعنې د سپینو زرو د سِکّو) پهٔ بدل کښې دینارونه (د سرو زرو سِکّې) راعطا کړلې-** [1]

صَلُّوْا عَلَی الْحَبِیب! صَلَّی اللهُ عَلٰی مُحَمَّد

## اختر د ښیګړې ورځ ده

خوږو او محترمو اِسلامي ورونړو! نن د اختر ورځ ده، د خوشحالۍ ورځ ده، الله پاک دې زمونږه د دې مبارکې ورځې برکتونه رانصیب کړي- الله پاک مونږ ته د خوشحالۍ دا ورځ راعطا کړله، پهٔ ننۍ ورځ باندې یقیناً چې پهٔ هره جائزه طریقه باندې خوشحالي کولے شئ- ښې جامې اغوستل، ښه خوراک کول، د خپلو خپلوانو سره میلاؤیدل وغیره دا ټول د خوشحالۍ کولو اندازونه دي، البته حقیقي خوشحالي هٔغه خوشحالي ده کومه چې زړهٔ ته کوزه شي او زمونږه زړهٔ خوشحاله کړي، مونږ ته د هٔغې خوشحالۍ کولو نه هم وروستو کیدل نهٔ دي پکار-

**داسې بهترینه خوشحالي کومه یوه ده؟ کومه خوشحالي چې د چا غریب، د چا مسکین، د چا پریشان حاله، د چا غمژن پهٔ زړهٔ خوشحالولو حاصلیږي- آؤ جي! هٔغه خوشحالي کومه چې د یو غمژن زړهٔ پهٔ خوشحالولو میلاؤیږي، هغهٔ سینه روښانه کوي-**

## د اختر خوشحالۍ یـې یو پهٔ دوه شوې

حضرت خواجه سِرّي سَقطي رَحۡمَةُ اللهِ عَلَیۡه ډیر لوئي ولئ کامِل تیر شوے دے، هغوئي فرمائي: یو

---

[1] ... فیضانِ رمضان، صفحه: 311 بتغیر قلیل-

ځل د اختر ورځ وه، ما د اختر نـمونځ وکړو او واپس رآروان ووم نو ما د خپل وخت مشهور کامِل ولي حضرت مَعرُوف کرخي رَحۡمَۃُاللّٰہِعَلَیۡہ ولیدلو، د هغوئي سره یو ماشوم هم وو، د هغهٔ ویښته ګډ وَډ وو او مسلسل یـې ژړل- زهٔ وروړاندې شوم، د کامِل ولي پهٔ خدمت کښې مې سلام عرض کړو او پوښتنه مې وکړه: یا سَیِّدِي! څهٔ وشو؟ دا ماشوم ولې ژاړي؟ اوئې فرمائیل: دا یو یتیم ماشوم دے، د دهٔ والد وفات شوے دے، د دهٔ هیڅ مددګار نشته، پهٔ یو ځائے کښې یو څو ماشومان راجمع شوي وو او پهٔ غوزانو یـې لوبې کولې خو د دهٔ سره پیسي نهٔ وې چې غوزان یـې پرې اخستےوے، دې وجې نه ه یو طرف ته ولاړ وو او ژړل یـې، نو ما د ځان سره راوستو-

حضرت سِرِّي سقطي رَحۡمَۃُاللّٰہِعَلَیۡہ فرمائي: ما عرض وکړو: عالي جاه! دا ماشوم ما ته حواله کړئ! زهٔ به د دهٔ پالنه کوم- حضرت معرُوف کرخي رَحۡمَۃُاللّٰہِعَلَیۡہ هُغه ماشوم ما ته حواله کړو او ورسره یـې راته دعا هم وکړه او اوئې فرمائیل: ځهٔ! دا ونیسه! اللہ پاک دې د دې نیک کار پهٔ برکت ستا زړهٔ د ایمان نه ډک کړي او تا ته دې د خپلې لارې ظاهري او باطني پیژندګلو درنصیب کړي-

فرمائي: ما هُغه ماشوم بازار ته بوتللو، هغهٔ له مې نوې جامې واخستلې، هغهٔ له مې غوزان هم واخستل او ور مې کړل، هغهٔ د اختر ورځ پهٔ خوشحالۍ خوشحالۍ د نورو ماشومانو سره پهٔ لوبو کښې تیره کړله، چې هغهٔ کله زما خوا له واپس راغلو نو ډیر خوشحاله وو، **ما ترینه پوښتنه وکړه: وایه کنه! د اختر ورځ دې څنګه تیره شوه؟ ماشوم پهٔ خوشحالۍ باندې ووئیل: تا زما مات روغ کړو، اللہ پاک دې ستاسو د پاره د خپل مَعرفت (یعنې د پیژندګلو) لاره اسانه کړي-** حضرت سِرِّي سقطي رَحۡمَۃُاللّٰہِعَلَیۡہ فرمائي: د هُغه ماشوم پهٔ داسې ښکلو دعاګانو زهٔ ډیر خوشحاله شوم او زما د اختر خوشحالۍ یو پهٔ دوه شوې-[1]

[1]… تذکرۃالاولیاء، ذکر معروف کرخی، صفحہ:242،243 خلاصۃً۔

**خوږو او محترمو اِسلامي ورونړو!** واقعي ده چې مات زړونه ښهٔ کول ، د چا غمژن زړهٔ خوشحالول ډېره ښه خبره ده، پهٔ دې نیک عمل باندې چې کومه خوشحالي میلاؤیږي، هغه پهٔ یو ځائے کښې هم اخستلے کیدے نشي، دا هٔغه لا جوابه خوشحالي ده کومه چې پهٔ لوئي لوئي محلونو کښې نهٔ میلاؤیږي، صرف د غریب پهٔ مدد کولو نصیب کیږي- غور وکړئ چې حضرت سِرّي سقطي رَحۡمَۃُ اللّٰہِ عَلَیۡہ د اختر نـمونځ وکړو او کور ته واپس راروان وو، پهٔ لاره کښې هغوئي ته د دې لاجوابه نیکۍ موقع میلاؤ شوه، د دې پهٔ برکت د هغوئي د وخت د کامِل ولي حضرت مُعرُوف کرخي رَحۡمَۃُ اللّٰہِ عَلَیۡہ دُعا نصیب شوه او بخت یـې رابیدار شو، الله پاک د هٔغې دُعا پهٔ د خپل قرب دروازې برسیره کړې او هغوئي خپل اوچت مقام ته ورسیدلو- کاش چې زمونږه هم داسې موقع نصیب شي، مونږه هم د اختر د نـمونځ د پاره راغلي یو، پهٔ واپسۍ کښې توجه ساتو، ذهن جوړ کړو چې د اختر د نـمونځ کولو نه پس کور ته د رسیدو نه مخکښې مخکښې که زیات نهٔ وي نو کم از کم د یو غریب مدد وکړو او کور ته لاړ شو- څهٔ پته لګي چې زمونږه پهٔ لږ شان کوشش باندې د چا زړهٔ خوشحاله شي، څهٔ پته لګي چې د یو مات زړه نه وتلې دُعا زمونږه نصیب شي او د هغې پهٔ برکت زمونږه بیړۍ پار شي-

ہو مرا کام غریبوں کی حمایت کرنا | دردمندوں سے، ضعیفوں سے محبّت کرنا
میرے اللہ بُرائی سے بچانا مجھ کو | نیک جو راہ ہو، اس راہ پہ چلانا مجھ کو

## د زړهٔ د خوشحالولو فضیلتونه

❁ د الله پاک اخري نبي، رسولِ هاشمي صَلَّی اللّٰہُ عَلَیۡہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم فرمائیلي دي: اِنَّ مِنۡ وَاجِبِ الۡمَغۡفِرَۃِ اِدۡخَالُكَ السُّرُوۡرَ عَلٰی اَخِیۡكَ الۡمُسۡلِم یعنې ستاسو د خپل مسلمان ورور زړهٔ ته خوشحالي ورکول د بخښنې پهٔ واجب کوونکو اعمالو کښې ده-[1] ❁ پهٔ یو حدیثِ پاک کښې دي: اِنَّ اَحَبَّ الۡاَعۡمَالِ اِلَی اللّٰہِ بَعۡدَ الۡفَرَائِضِ اِدۡخَالُ السُّرُوۡرِ عَلَی الۡمُسۡلِم یعنې د الله پاک پهٔ نزد د فرائضو نه پس د ټولو نه خوښ عمل د

[1] … معجمِ اوسط ، جلد:6 ، صفحه:129 ، حديث:8245-

مسلمان زړۀ له خوشحالي ورکول دي۔ [1] ❀ دغه شان د مسلمانانو د دويم خليفه حضرت عمر فاروقِ اعظم رَضِیَ اللّٰہُ عَنْہُ نه روايت دے چې د الله پاک د اخري نبي، مکي مَدَني، مُحَمَّدِ عربي صَلَّی اللّٰہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم نه پوښتنه وشوه: په اعمالو کښې د ټولو نه افضل عمل کوم يو دے؟ نبي کريم صَلَّی اللّٰہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم وفرمائيل: د مسلمان زړۀ له خوشحالي ورکول افضل عمل دے (او د دې طريقه دا ده چې) تۀ هغۀ له جامې ورکړې! يا پرې خوراک وخورې او د هغۀ لوږه ختمه کړې! يا د هغۀ څۀ ضرورت پوره کړې! [2] ❀ يو بَل ايمان تازه کوونکے حديثِ پاک واورئ! د الله پاک رسول، رسولِ مقبول صَلَّی اللّٰہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم فرمائي: مَنْ وَافَقَ مِنْ اَخِيهِ شَهْوَةً غُفِرَ لَهُ څوک چې د خپل (مسلمان) ورور په خواهش کښې د هغۀ موافقت وکړي، هغۀ به بخښلے کيږي۔ [3]

الله! الله! د رحمان د رحمت هم څومره ځانګړے شان دے، عمل څومره اسان دے او اجر پرې څومره زيات دے--!! نن د دې خوشحالو په ورځ چې هر څوک خوشحالي کوي، نو داسې به څوک وي کوم چې په دې خوشحالو کښې شامليدل نۀ غواړي خو آه! دا ملا ماتوونکې ګراني، غريبي، يتيمي، مسکيني، زمونږه په معاشره کښې چې چرته خوشحالي په نظر راځي، څومره غريبانان به هم وي، څوک چې د نورو ښو جامو ته ګوري، نور په خوشحالو ويني او په زړۀ زړۀ کښې اسويلي کوي، څومره داسې يتيمانان به وي، څوک چې د نورو ماشومان په نوؤ نوؤ جامو اغوستو ويني او په زړۀ کښې خفه کيږي چې کاش زمونږه هم نن والد ژوندے وے، زمونږ په سَر باندې هم څوک لاس کيښودلو والا وے، کاش چې چا مونږه هم بازار ته بوتلي وے او مونږ له يې زمونږ د خوښې څيزونه اخستے وے، کاش چې چا زمونږ نه هم پوښتنه کړے وے چې زويه! د اختر د پاره دې څنګه جامې پکار دي؟ څنګه پيزار اخستل دي؟ خو افسوس چې د دې بے وَسو ملاتړ څوک جوړ شي؟

---

[1]... معجمِ اوسط، جلد:6، صفحه:37، حديث:7911۔

[2]... معجمِ اوسط، جلد:4، صفحه:24، حديث:5081۔

[3]... مسندِ بزّار، جلد:10، صفحه:47، حديث:47۔

**اے د خوږ نبي** صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم **عاشقانو!** مونږ په لږ شان کوشش، لږه شان قربانئ ورکولو، په لږ شان همت کولو د دې افضلې نیکئ د کولو سعادت حاصلولے شو، لږ یو ځلې بیا د زړه په غوږونو دا ایمان تازه کوونکے حدیثِ پاک واورئ! د یتیمانانو، بے وَسو مددګار، زمونږ د زړونو قرار صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم فرمائي: مَنْ وَافَقَ مِنْ اَخِيهِ شَهْوَةً غُفِرَ لَهُ څوک چې د خپل (مسلمان) ورور په خواهش کښې د هغهٔ موافقت وکړي، هغهٔ به بخښلے کیږي-[1]

وہ تو نہایت سستا سودا بیچ رہے ہیں جنّت کا

ہم مُفلس کیا مَول چُکائیں، اپنا ہاتھ ہی خالی ہے[2]

## فائده رسوونکي جوړ شئ!

یو ډیر ښکلے حدیثِ پاک تاسو ته بیانوم ، صحابي اِبنِ صحابي حضرت عبد الله بن عمر رَضِیَ اللهُ عَنْهما د دې حدیث راوِي دے، هغوئي فرمائي: یوه ورځ مونږه د خوږ آقا و مولا، مکي مَدَني مصطفٰے صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم په خدمت کښې حاضر وو، نبي کریم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم د صحابهٔ کرامو نه یوه پوښتنه وکړه، اوئې فرمائیل: اِنَّ مِنَ الشَّجَرِ شَجَرَةً لَا يَسْقُطُ وَرَقُهَا، وَاِنَّهَا مَثَلُ الْمُسْلِمِ، فَحَدِّثُوْنِیْ مَا هِیَ یعنې په وَنو کښې یوه وَنه ده، د هغې پاڼې نهٔ رژیږي، د هغې مثال د مسلمانانو په شان دے، وه وایئ چې هغهٔ ونه کومه یوه ده؟

بیا صحابهٔ کرامو رَضِیَ اللهُ عَنْهُم سوچ شروع کړو (چې هغه کومه یوه داسې ونه کیدے شي د کومې پاڼې چې هم نهٔ رژیږي او د هغې مثال د مسلمان په شان دے، چا څهٔ سوچ کولو، چا څهٔ سوچ کولو)- حضرت عبد الله بن عمر رَضِیَ اللهُ عَنْهما فرمائي: زما په ذِهن کښې د دې پوښتنې جواب راغلو (خو زهٔ وړوکے ماشوم ووم، زما نه مشران صحابهٔ کرام رَضِیَ اللهُ عَنْهُم موجود وو)،

---

[1]... مسندِ بزّار، جلد:10، صفحه:47، حدیث:47۔

[2]... حدائقِ بخشش، صفحه:186۔

ځکه د هغوئي نه د حيا په وجه ما جواب ورنکړو، اخر خوږ آقا و مولا، مکي مَدَني مصطفٰے صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم هم پخپله وفرمائيل: هِيَ النَّخْلَةُ يعنې دا د کجورې وَنه ده-[1]

**خوږو او محترمو اِسلامي ورونړو!** دا يو حديثِ پاک مونږ واوريدو، خوږ آقا و مولا، مکي مَدَني مصطفٰے صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم د يوې وَنې ذِکر وفرمائيلو، د کومې مثال چې د مسلمان په شان دے او هُغه ونه کومه يوه ده؟ د کجورې وَنه ده- علمائے کرامو په دې ځائے کښې يوه پوښتنه پورته کړې ده، هغه دا چې د کجورې په ونه کښې آخر داسې څۀ خاص خبره ده؟ خوږ آقا و مولا، مکي مَدَني مصطفٰے صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم دې ته د مسلمان په شان ولې وفرمائيله؟ د دې پوښتنې په جواب کښې علمائے کرام فرمائي: د کجورې ونه ټول خير او ښيګړه ده، د دې هر جُز، هره يوه حصه فائده ورکوي، فائده منده ده: ❀ د کجورې د پاڼو نه چټايانې جوړيږي، د دې نه رسۍ هم جوړولے شي، مخکښې به د کجورو د پاڼو نه د ډوډۍ د پاره شکورونه هم جوړوليدل ❀ دغه شان د کجورې د پوستکي نه وور هم بليږي، مخکښې به د مالوچو په ځائے دا په تکيه کښې هم استعماليدله ❀ د کجورې تنه د ستنې جوړولو په طور هم استعماليږي، مخکښې به دا په چتونو کښې د ګادر په ځائے هم استعماليدله ❀ دغه شان د کجورې د هډوکي هم ډيرې فائدې دي، دا د څاروو په خوراک کښې استعماليږي، دا چې وټکوې او استعمال يې کړې نو په طِبي طور ډيره فائده منده ده ❀ باقي پاتې شوه کجوره نو هغۀ ډيره فائده منده ميوه ده، په ميوؤ کښې د ټولو نه زياته طاقتوره او زياته فائده رسوونکې ميوه کجوره ګڼلے کيږي ❀ د ساه لنډې، زړۀ، ځيګر، ګُردو، مثانې، پتے او د کولمو په بيمارو کښې کجوره ډيره فائده منده ده ❀ دا بلغم راوباسي او د خُلې نه خُشکي ختموي- غرض دا چې د کجورې د ونې ډيرې فائدې دي-

دغه شان د مؤمِن بنده هم دغه شان مثال دے، مؤمِن بنده هم صرف او صرف فائده مند وي، د دۀ هيڅ نقصان نه وي- دا بس صرف نورو ته فائدې رسوي-

---

[1]... بخاری، کتاب العلم، باب قول المحدث: حدثنا او اخبرنا و انبانا، صفحه:88، حديث:61۔

اے د خوږ نبي صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم عاشقانو! نن د اختر ورځ ده، نن صرف د خوشحالو کولو ورځ نۀ بلکې د خوشحالو د تقسیمولو ورځ هم ده- نن نورو ته فائده ورسوئ! غریبانانو، بے وسو، یتیمانانو، مسکینانو ته فائده ورسوئ! د هغوئي سره ښیګړه وکړئ! اِنْ شَآءَ اللّٰهُ الْكَرِيم! ډېر برکتونه به مو نصیب شي- پۀ حدیثِ پاک کښې دي: خَيْرُ النَّاسِ مَنْ يَّنْفَعُ النَّاس یعنې پۀ خلقو کښې بهتر هغۀ دے کوم چې خلقو ته فائده رسوي- (1)

## فائده رسوونکے څیز باقي پاتې کیږي

الله پاک پۀ قرآنِ کریم کښې یو مثال ذِکر کړے دے، د مثال خلاصه څۀ داسې ده چې د اسمان نه تیز باران راوریږي، خوړونه نالې راووځي، بیا څۀ کیږي؟ چې کله تیزې اوبه بهیږي نو د هغې د پاسه څۀ ځګ راځي، الله پاک فرمائي:

فَاَمَّا الزَّبَدُ فَيَذْهَبُ جُفَآءً ۚ وَ اَمَّا مَا يَنْفَعُ النَّاسَ فَيَمْكُثُ فِي الْاَرْضِ ؕ

(پاره:13، سورۀ رعد:17)

ترجمهٔ کنزُ العِرفان: نو ځګ خو ضائع شي، او هُغه (اُوبه) کومې چې خلقو ته فائده ورکوي هغه پۀ زمکه کښې باقي اوسي-

یعنې د اوبو د پاسه راتلونکے ځګ اګر که د څۀ وخت د پاره اوبه پټې کړي خو ډېر وخت پرې نۀ پاتې کیږي، زر ختمیږي خو اوبه کومې چې فائده رسوونکې دي، د قدرت د طرف نه د دې د حفاظت ذریعه جوړیږي، دا زمکه راښکي، پۀ ځان کښې یې دننه جمع کوي، د اوبو نه وریځې جوړې کړے شي او د هوا پۀ اوګو سورۀ کړے شي، دا د ګلیشئر [یعنې د واورو د لوئي ګټانو] پۀ شکل کښې محفوظ کولے شي، غرض دا چې ځګ کوم چې خلقو ته فائده نۀ رسوي هغه زر ختمیږي خو اوبه خلقو ته فائده رسوي، ځکه دا محفوظ کولے شي- دلته د قرآنِ کریم

1 ...کنز العمال، کتاب المواعظ و الرقاق، جز:16، جلد:8، صفحه:54، حدیث:44147-

پهٔ دې مبارکو الفاظو باندې غور وکړئ!

وَ اَمَّا مَا یَنْفَعُ النَّاسَ فَیَمْكُثُ فِی الْاَرْضِؕ (پاره:13، سورهٔ رعد:17)

ترجمهٔ کنزُ العِرفان: او هغه (اُوبه) کومې چې خلقو ته فائده ورکوي هغه پهٔ زمکه کښې باقي اوسي۔

معلومه شوه چې څهٔ فائده مند وي، کوم چې خلقو ته فائده رسوي، د هغې د حفاظت قدرتي انتظام کولے شي۔

دا حقيقت دے، وګورئ چې ❀ حضور غوثِ پاک رَحْمَةُ اللّٰهِ عَلَيْه د غريبانانو سره ښيګړه کوونکے وو، د هغوئي د دُنيا نه د تللو صدئ تيرې شوې، نن هم د خلقو پهٔ زړونو کښې د هغوئي عقيدت موجود دے، خلق وائي: زمونږه زوي پکار دے، چې زمونږه نسل مخکښې لاړ شي، زمونږه نوم پاتې شي، لږ غور وکړئ او ووايئ چې ❀ د حُضُور داتا ګنج بخش علي هجويري رَحْمَةُ اللّٰهِ عَلَيْه خومره زامن وو؟ يو هم نهٔ وو خو وګورئ چې نن د زامنو والؤ پهٔ قبر باندې خاورو اچولو والا هم څوک نشته، د هغوئي نخښې هم وراني شوې دي خو اَلْحَمْدُلِلّٰه! د داتا حُضُور رَحْمَةُ اللّٰهِ عَلَيْه پهٔ مزار مبارک باندې شپه ورځ فيض عام کيږي، د اللّٰه پاک پهٔ عطا سره د داتا حُضُور رَحْمَةُ اللّٰهِ عَلَيْه پهٔ وسيله باندې معلومه نهٔ ده چې د څومره خلقو غمونه پريشاني لرې کيږي ❀ داسې څومره ډير کامِل اوليائے کرام دي، د هغوئي د دُنيا نه د رخصتيدو صدئ تيرې شوې دي، ډير کلونه تير شوي دي، د هغوئي نوم، د هغوئي عقيدت، د هغوئي محبت نن هم پهٔ زړونو کښې موجود دے، خلق د هغوئي مزارونو ته حاضري کوي، هغوئي ته دعاګانې کوي، د هغوئي پهٔ نوم باندې محفلونه جوړيږي، هغوئي ته د عقيدت نيکې هيلې او پيرزونې وړاندې کولے شي، اخر ولې؟ ځکه چې هغوئي د اللّٰه پاک نيکان بندګان وو، دا اوليائے کرام نورو ته د دِين او د دُنيا پهٔ لحاظ فائده رسوونکي وو، تاسو چې د کوم يو وليُ اللّٰه سيرت هم راواخلئ نو يوه خبره به د ټولو پهٔ ژوند

کښې میلاؤیږي چې دا د اوچتې مرتبې حضرات د غریبانانو مدد کوونکي وو، د مسکینانو، یتیمانانو، بے وسو مدد به یې کولو، دوئي به نۀ یواځې خپل خواهشات بلکې ضرورتونه هم قربانول او د نورو زړونه به یې خوشحالول، الله پاک د هغوئي نومونه، د هغوئي عقیدت، د هغوئي محبت تر ترتله د محفوظ ساتلو قدرتي انتظام وفرمائیلو، مونږه دغه د اوچتې مرتبې هستیانې لیدلې هم نۀ دي، د هغوئي پۀ صحبت کښې ناست هم نۀ یو، بیا هم زمونږه پۀ زړونو کښې د هغوئي محبت موجود دے، ځکه چې

وَ اَمَّا مَا یَنْفَعُ النَّاسَ فَیَمْكُثُ فِی الْاَرْضِؕ (پاره:13، سورۂ رعد:17)

ترجمۂ کنزُ العِرفان: او هغه (اُوبه) کومې چې خلقو ته فائده ورکوي هغه پۀ زمکه کښې باقي اوسي۔

دې الله والؤ، دې کامِلو اولیائے کرامو به اختر څنګه کولو، واورئ!

## د غریب ماشوم اختر شو

یو ځل د اختر ورځ وه، سحر خلقو نوې جامې واغوستلې، پۀ خوشحالۍ خوشحالۍ د اختر د نـمونځ د پاره د عید ګاه طرف ته روان وو، ډیر مشهور کامِل ولي، خواجۀ اَجمیر، خواجه غریب نواز حضرت خواجه معین الدِّین چشتي اجمیري رَحۡمَةُ اللّٰهِ عَلَیۡه خوک چې هغه وخت ډیر وړوکے وو، هغوئي هم نوې جامې واغوستلې او د عید ګاه طرف روان شو، پۀ لاره کښې هغوئي یو زړۀ بوږنیدونکے منظر ولیدو، د لارې پۀ غاړه باندې یو ماشوم ولاړ دے، د سترګو د نظر نه محرومه دے، زړې جامې یې اغوستې دي، د غریبۍ پۀ حالت کښې دے او پۀ مخ باندې یې د غم او پریشانۍ نخښې دي_!! خواجه غریب نواز رَحۡمَةُ اللّٰهِ عَلَیۡه خو بیا غریب نواز دے، هغوئي هُم د ماشومتوب نه ډیر سَخي او رحمدله وو، د اختر پۀ ورځ باندې چې یې ماشوم پۀ داسې حالت کښې ولیدلو نو د خواجه صاحب رَحۡمَةُ اللّٰهِ عَلَیۡه وړوکے شان زړۀ راډک شو، هغوئي د ماشوم لاس

ونيولو، کور ته يې راوستو او هغه قيمتي جامې کومې چې يې پخپله اغوستې وې هغه يې ويستلې او غريب ماشوم ته يې واغوستلې او پخپله يې زړې جامې واغوستلې او د عيد ګاه طرف ته روان شو- (1)

سُبْحٰنَ الله! خوږو او محترمو اِسلامي ورونو! دې ته پهٔ حقيقت کښې وئيلے شي اختر کول--!! الله دې کړي چې مونږه هم واقعي اختر ونمانځو، خوشحالي هم وکړو او خوشحالۍ تقسيموونکي هم جوړ شو-

هو مرا کام غریبوں کی حمایت کرنا | درد مندوں سے، ضعیفوں سے محبّت کرنا
میرے اللہ بُرائی سے بچانا مجھ کو | نیک جو راہ ہو، اس راہ پہ چلانا مجھ کو

صَلُّوْا عَلَی الْحَبِیْب! صَلَّی اللهُ عَلٰی مُحَمَّد

## د سرسايه د واجِب کيدو يو حِکمت

خوږو او محترمو اِسلامي ورونو! چې مونږه د اختر پهٔ ورځ خوشحالۍ تقسيم کړو، غريبانان هم د ځان سره پهٔ دې خوشحالو کښې شريک کړو، دا خبره زمونږه دِين اِسلام ډيره خوښوي، د دې حکمت له وجهې يې سرسايه [يقني صدقهٔ فِطر] هم واجِب کړې ده- صحابي اِبنِ صحابي حضرت عبد الله بن عبّاس رَضِیَ اللهُ عَنْهما فرمائي: د غريبانانو غم خوار نبي، د زړونو ټکور نبي صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم سرسايه مقرر کړله چې د فضول او بے هوده خبرو نه روژې صفا شي او د دې په ذريعه د مسکينانو د خوراک سبب هم جوړ شي- (2)

سُبْحٰنَ الله! اندازه ولګوئ چې زمونږه د خوږ دِين، زمونږه د شريعت، زمونږه د خوږ آقا و مولا، مکي مَدَني مصطفٰے صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم سره د غريبانانو څومره فِکر دے، ځکه مونږ له هم پکار

[1]… معین الہند حضرت خواجہ معین الدین اجمیری، صفحہ:22 بتغیر قلیل۔
[2]… ابو داؤد، کتاب الزکاۃ، باب زکاۃ الفطر، صفحہ:263، حدیث:1609۔

دي چې سرسایه هم په خوشحالۍ باندې ادا کړو او د دې نه علاوه هم د خیراتونو او صدقو په ذریعه د غریبانانو د مدد کولو عادت اختیار کړو۔

## د صدقې او د خیرات عادت جوړ کړئ!

**خوږو او محترمو اِسلامي وروڼو!** مونږ له هم د زیاتو نه د زیاتې صدقې او خیرات کولو عادت جوړول پکار دي، په چا باندې چې زکوٰة فرض وي، په هغوئي باندې خو لازم دي چې زکوٰة ادا کړي او حساب وکړي بلکې په عاشقِ رسول مفتي صاحب باندې حساب وکړي او پوره پوره زکوٰة ادا کړي۔ په زکوٰة کښې یوه روپۍ کمے هم کول د ګناه کار دے۔ د دې سره سره د نفلي صدقې او د خیرات عادت هم جوړ کړئ! سرسایه په هر ازاد مسلمان، د نصاب په مالِک باندې د چا نصاب چې د اصلي حاجت نه زیات وي واجب ده۔ [1] اللّٰه پاک فرمائي:

| | |
|---|---|
| قَدۡ اَفۡلَحَ مَنۡ تَزَكّٰى ۙ﴿۱۴﴾<br>(پاره:30، سورۂ الاعلیٰ:14) | **ترجمۂ کنزُ العِرفان:** بے شکه چا چې ځان پاک کړو هغهٔ به کامیاب وي۔ |

**په تفسیر خزائنُ العِرفان کښې دي:** په دې آیت کښې د تَزَكّٰى نه مُراد سرسایه ده۔ [2] یعنې کوم بنده چې د وړوکي اختر په موقع باندې غریبانانو ته سرسایه ورکړي او هغوي ته د اختر د خوشحالو کولو موقع ورکړي، د هغهٔ زړهٔ صفا کیږي او هغهٔ نجات او کامیابۍ ته رسیږي۔

## سرسایه په 4 قِسمه ادا کیږي

د سرسایه مقدار په 4 قِسمه دے: **(1):** وَسکې **(2):** کجورې **(3):** وربشې یا د هغې وړهٔ **(4):** غنم یا د هغې وړهٔ ❁ که د وَسکو په لحاظ سره سرسایه ادا کول وي نو د دې په کال

---

[1] … بهارِ شریعت، جلد:1، صفحه:935، حصه:5۔

[2] … تفسیر خزائن العرفان، پاره:30، الاعلیٰ، زیرِ آیت:14، صفحه:1099۔

(2025ء کښې) پۀ پاکستان کښې مقدار د ګس پۀ سر 6 زره روپۍ دي ❁ د کجورو پۀ لحاظ سره 2400 روپۍ ❁ د عَجوه کجورو پۀ لحاظ سره 19 زره روپۍ ❁ د ورېشو پۀ لحاظ سره 700 روپۍ او ❁ د غنمو پۀ لحاظ سره 240 روپۍ۔

د سرمايه پۀ ادا کولو کښې د خپل حيثيت خيال ساتل پکار دي، چا له چې الله پاک مال او دولت ورکړے وي، هغۀ له پکار دي چې د وَسکو پۀ لحاظ سره د ګس پۀ سر 2400 روپۍ ادا کړي، څوک چې دومره وَس نۀ لري، هغۀ دې د ورېشو پۀ لحاظ سره د ګس پۀ سر700 روپۍ او څوک چې د دې وَس هم نۀ لري نو هغۀ دې د غنمو پۀ لحاظ سره د ګس پۀ سر د 240 روپو پۀ حساب سره ادا کړي۔ څومره چې ګوره اچوې نو شربت به هُغه همره خوږېږي يعنې د الله پاک پۀ لار کښې چې څومره زيات خرچ کوئ نو هُغه همره به زيات ثواب ميلاؤېږي او اِنْ شَآءَ اللّٰهُ الْکَرِيم! ډېر برکتونه به مو نصيب کيږي۔

## د عطياتو ترغيب

**خوږو او محترمو اِسلامي ورونو!** ستاسو خپل دِيني تحريک دعوتِ اِسلامي دا وخت د اتياؤ [80] نه پۀ زياتو شعبو کښې د دِين خدمت کوي۔ اَلْحَمْدُلِلّٰه! ❁ پۀ زرګونو مدرسې او جامعات جوړ کړے شوي دي پۀ کومو کښې چې پۀ لکونو نارينه او زنانه طالبِ علمانې تعليم حاصلوي ❁ د المدينةُ العلميه ***(Islamic Research Center)*** پۀ ذريعه اُمَّت ته اِسلامي لټريچر ورکولے شي ❁ د سوشل ميډيا پۀ ذريعه کروړونو خلقو ته اِسلامي معلومات ورکړے کيږي ❁ د مَدَني چينل اُردو، انګلش، بنګالۍ، کِډز مَدَني چينل، د بزرګانو مَدَني چينل او عربۍ ويب چينل پۀ ذريعه د دِين اِسلام ❁ او پۀ ټوله دُنيا کښې د مسلمانانو د ښيګړې د پاره د جوړې کړے شوې شعبې ايف جي آر ايف ***(FGRF)*** پۀ ذريعه د غم زپلو مسلمانانو خدمت کولے شي۔

تاسو هم د دین د خِدمت په دې کار کښې خپله حصه شامِله کړئ! خپل عطیات دعوتِ اِسلامي له ورکړئ، ستاسو چنده په هر قِسمه جائز، دیني، اصلاحي، فلاحي، روحاني او د خیر ښیګړې په کارونو کښې لګیدے شي د پاره د دې چې زیاتیدونکې خرچې پوره کړے شي۔

دعوتِ اسلامی کی قیُّوم، سارے جہاں میں مچ جائے دُھوم

اس پہ فِدا ہو بچہ بچہ یااللہ! مری جھولی بھر دے

الله پاک دې زمونږه د قرآنِ کریم فیضان نصیب کړي او د زړۀ په لګولو د خشوع و خضوع سره د نـمونځونو د کولو، د ښې ډیرې صدقې او د خیرات کولو توفیق دې راعطا کړي۔

اٰمِین بِجَاہِ خَاتَمِ النَّبِیّٖن صَلَّی اللّٰہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم

صَلُّوْا عَلَی الْحَبِیْب! صَلَّی اللّٰہُ عَلٰی مُحَمَّد

## د وفات شوو سره هم ښیګړه

خوږو او محترمو اِسلامي ورونو! د اختر ورځ د خیربنیګړې ورځ ده، په ننۍ ورځ باندې مونږ ته د خپلو خپلوانو، د کوځې او د محلې د غریبانانو، یتیمانانو، مسکینانو سره ښیګړه کول پکار ده، ضروریـې وکړئ، د دې سره سره زمونږه هغه خپلوان، دوستان، زمونږه هغه مسلمانان ورونه کوم چې زمونږ سره نن نشته، د دُنیا نه تلي دي، هغوئي هم نۀ دي هیرول پکار، د هغوئي سره هم ښیګړه کول پکار ده۔

دا به څنګه کوو؟ د ایصالِ ثواب په ذریعه، مونږه روژې ونیولې، تراویح مو وکړې، قرآن کریم مو واوریدلو، واورولو، د قرآنِ کریم تلاوت مو وکړو، د تهجدو سعادت مو حاصل کړو، نفلونه مو وکړل، په رَمَضَانُ الْمُبَارَک کښې مو ذِکر وکړو او دُرُود شریف مو ووئیلو، د هغې ثواب او نن چې څومره هم نیکۍ کوو، د دې ټولو ثواب هم خپلو وفات شوو ته د تحفې په توګه ولیږئ،

دا به د هغوئي سره ښیګړه شي۔

پۀ حدیثِ پاک کښې دي د مړي حال پۀ قبر کښې د ډوب شوي انسان پۀ شان دے چې هغۀ ډیر انتظار کوي چې پلار یا مور یا ورور یا د کوم دوست دُعا ورته ور ورسي او چې کله د چا دُعا هغۀ ته ور ورسي نو د هغۀ د پاره د دُنیا و مافیها (یعني دُنیا او څۀ چې پۀ دې کښې دي) نه بهتر وي۔ الله پاک قبر والؤ ته د هغوئي د ژوند د متعلقینو د طرف نه هدیه کړے شوے ثواب د غرونو پۀ شان عطا کوي، د ژوند هدیه (یعني تحفه) د مړو د پاره د بخښنې دُعا ده۔ [1]

## پۀ قبر کښې به یــې انوار داخلیږي

منقول دي چې کوم کس د اختر پۀ ورځ 300 کرته سُبْحٰنَ اللہِ وَبِحَمْدِہٖ ولولي او د وفات شوو مسلمانانو روحونو ته یې ایصالِ ثواب کړي نو د هر یو مسلمان پۀ قبر کښې یو زر [1000] انوار داخلیږي او چې کله هُغه لوستونکے پخپله مړ شي، الله پاک به د هغۀ پۀ قبر کښې هم یو زر [1000] انوار داخل کړي۔ [2]

یا رَبِّ مصطفٰے صَلَّی اللهُ عَلَیْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم! زمونږه د اختر د خوشحالو د سُنَّت مطابق، پۀ ښیګړه کولو، نورو ته پۀ فائده رسولو، پۀ خوشحالو تقسیمولو د تیرولو توفیق راعطا کړې۔ اے خوږه الله پاکه! مونږ ته د حج شریف او د مدینے د ښار او د مدینے د تاجدار صَلَّی اللهُ عَلَیْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم د دیدن مَدَني اختر بیا بیا را عطا کړې۔ اٰمِین بِجَاہِ خَاتَمِ النَّبِیّٖن صَلَّی اللهُ عَلَیْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم۔

تِری جبکہ دید ہوگی جبھی میری عید ہوگی
مِرے خواب میں تُو آنا مَدَنی مدینے والے [3]

---

[1]… شُعَبُ الْاِیمان، باب فی بر الوالدین، جلد:6، صفحه:203، حدیث:7905۔
[2]… مُکَاشِفَةُ الْقُلُوب، باب فی فضل العید، صفحه:462۔
[3]… وسائلِ بخشش، صفحه:424۔

## ما به د اختر نـمونځ هم نۀ کولو

**خوږو او محترمو اِسلامي وروڼو!** د مسلمانانو د خیر خواه او د نیک نـمونځ ګزاره جوړیدو د پاره د عاشقانِ رسول د دِیني تحریک دعوتِ اِسلامي د دِیني ماحول سره خپل تړون نور هم مضبوط کړئ! د عاشقانِ رسول سره د مَدَني قافلو د مسافر جوړیدو معمول هم جوړ کړئ! اِنْ شَآءَ اللهُ الْکَرِیم! د دې به ډیر برکتونه در نصیب شي-

د کراچۍ د یو اِسلامي ورور بیان دے: زۀ پینځه وخته نـمونځ ګزاره خو غټه خبره ده چې ما به د جُمعې او د اختر نـمونځونه هم نۀ کول، د شپې تر ناوخته پورې فلمونه، ډرامې کتل زما معمول وو، بیا زما د اِصلاح ذریعه څۀ داسې جوړه شوه چې یو ځل زما پۀ رَمَضَانُ الْمُبَارَک کښې د اعتکاف سعادت نصیب شو، د دې سره سره زۀ د عاشقانِ رسول سره د دریو ورځو د مَدَني قافلې مسافر هم جوړ شوم، بس د دې پۀ برکت زما د دعوتِ اِسلامي دِیني ماحول نصیب شو او زۀ یواځې پینځه وخته نـمونځ ګزاره نۀ بلکې نورو ته د نـمونځونو دعوت ورکوونکے هم جوړ شوم-

اچھّی صحبت ملے،خوب برکت ملے | چل پڑو چل پڑیں قافلے میں چلو!
بے عمل با عمل بن گئے خاص کر | آپ بھی دیکھ لیں قافلے میں چلو!
بے شک اعمالِ بد اور افعالِ بد | کی چھٹیں عادتیں ،قافلے میں چلو!

د وړوکي اختر د نـمونځ طریقه واورئ!

## د اختر د نـمونځ طریقه (حنفي)

وړومبے داسې نیت وکړئ: ❁ **نیت کووم د وړوکي اختر د دوو رکعته نـمونځ، سَره د شپږو زائد تکبیرونو، خاص خُدائے تا لره، پۀ دې حاضر اِمام پسې** ❁ بیا تر غوږونو پورې لاسونه

اوچت کړئ او اَللّٰہُ اَکۡبَر ووایئ او د معمول مطابق یې د نوم نه ښکته وتړئ او ثنا ولولئ ❁ بیا تر غوږونو پورې لاسونه پورته کړئ او اَللّٰہُ اَکۡبَر ووایئ او لاندې یې زوړند کړئ ❁ بیا لاسونه تر غوږونو پورې اوچت کړئ او اَللّٰہُ اَکۡبَر ووایئ او ښکته یې زوړند کړئ ❁ بیا تر غوږونو پورې لاسونه پورته کړئ او اَللّٰہُ اَکۡبَر ووایئ او د نوم نه ښکته یې وتړئ یعني د وړومبي تکبیر نه پس لاسونه وتړئ د هغې نه پس په دویم او دریم تکبیر کښې یې زوړند کړئ او په څلورم تکبیر کښې یې وتړئ، دا داسې یاد ساتئ چې چرته په قیام کښې د تکبیر نه پس څۀ لوستل دي هلته لاسونه تړل دي او چې چرته نۀ دي لوستل هلته زوړندول دي ❁ بیا دې امام تَعَوُّذ او تَسمِیَه په پټ ووائي او اَلحَمدُ شریف او سورت دې په جهر (یعني په تیز اواز) ووائي ❁ بیا دې رکوع وکړي ❁ په دویم رکعت کښې وړومبے اَلحَمدُ شریف او سورت دې په جهر ولولي ❁ بیا دې درې کرته لاسونه تر غوږونو پورې پورته کړي او اَللّٰہُ اَکۡبَر دې ووائي او لاسونه دې نۀ تړي او په څلورم ځل دې بغیر د لاسونو پورته کولو نه اَللّٰہُ اَکۡبَر ووائي او رکوع ته دې ښکته شي او د قاعدې مطابق دې نـمونځ مکمل کړي- د هرو دوو تکبیرونو ترمینځه د درې کرته سُبۡحٰنَ اللہ وئیلو په مقدار چپ پاتې کیدل دي-[1]

## د وړوکي اختر نه پس د شپږو روژو ترغیب

**اے د خوږ نبي** صَلَّی اللّٰہُ عَلَیۡہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم **عاشقانو!** د **رَمَضَانُ المُبَارَک** شریف نه پس **شوال شریف** راتلونکے دے- خوش قِسمته مسلمانان په دې میاشت کښې د وړوکي اختر نه پس د شپږو روژونو نیولو سعادت حاصلوي- راځئ چې د دې روژو فضائل واورو چې د دې روژو د نیولو او د دې د برکتونو نه د فیض حاصلولو ذهن جوړ شي، نو ❁ **په حدیثِ پاک کښې دي:** چا چې د رمضان روژې ونیولې، بیا یې 6 ورځې په شوال کښې روژې ونیولې نو د ګناهونو نه داسې

---

[1] ... بهارِ شریعت، جلد:1، صفحه:781، حصه:4 ماخوذاً-

ووتلو لکه چې هم نن د مور د خېټې نه پیدا شوے وي-[1] ❁ چا چې د رمضان روژې ونیولې، بیا یـې د هغې نه پس په شوال کښې 6 روژې ونیولې- نو داسې ده چې لکه ټول عمر یـې روژې ونیولې-[2] ❁ خَلیلِ مِلَّت مفتي محمد خلیل خان برکاتي رَحْمَةُ اللّٰہِ عَلَیْه فرمائي: دا روژې که د اختر نه پس پرله پسې ونیولے شي نو بیا پکښې هم څۀ باک نشته او بهتره دا ده چې په هره هفته کښې دوه روژې او د اختر په دویمه ورځ یوه روژه ونیسي او که په ټوله میاشت کښې یـې ونیسي نو نور هم مناسب معلومیږي-[3]

صَلُّوْا عَلَی الْحَبِیْب! صَلَّی اللّٰهُ عَلٰی مُحَمَّد

[1]... مجمع الزوائد، کتاب الصیام، باب فیمن صام ...الخ، جلد:3، صفحه:322، حدیث:5102۔

[2]... مسلم، کتاب الصیام، باب استحباب صوم...الخ، صفحه:424، حدیث: 1164۔

[3]... سنی بهشتی زیور، صفحه:347۔